# د حضرت زکریاه نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

د حضرت زکریاه نبی کِتاب د حضرت عیسیٰ مسیح د پېدایښت نه پینځه سوه کاله مخکښې لیکلے شوے دے، هغهٔ د حضرت عیسیٰ مسیح د راتلو عجیبه رښتینې پېشګوئې وکړه چې هغه به راځی او دُنیا له به د ګناهونو نه خلاصون ورکوی. لکه څنګه چې حضرت حجی د جلاوطنۍ نه راواپس شوو یهودیانو ته حکم وکړو چې د خُدائ پاک کور بیا آباد کړی، نو دغه شان حضرت زکریاه هم هغوئ ته دا حکم وکړو چې توبه ویاسی او خُدائ پاک سره خپل کړے لوظ بیا تازه کړی. په دې دوران کښې د خلقو دوباره روحانی ژوندون ته راتلل ضروری وو تر دې چې هغوئ د دې دپاره تیار شی چې د خُدائ پاک کور آباد کړی او په کښې د عبادت فریضه سر ته ورسوی. حضرت زکریاه هغوئ قصوروار وګرځول ځکه چې هغوئ هم هغه کارونه کول کوم چې د جلاوطنۍ نه مخکښې د هغوئ پلار نیکهٔ کړی وُو. هغوئ د کونډو، یتیمانو او مسافرو او د عام اِنصاف په حقله فکرمند نهٔ وو. خو چې کله خلقو د یهوداه د اوسېدونکو مخالفت وکړو نو حضرت زکریاه خلقو له د خُدائ پاک د تسلۍ او خیال ساتلو په حقله بیا حوصله ورکړه چې ضرور به خُدائ پاک بنی اِسرائیلو سره خپل لوظ جاری ساتی. د حضرت زکریاه د خِدمت په دوران کښې د حضرت عیسیٰ مسیح په حقله اُمید بیا تازه کړے شو، او د کِتاب اختتام دې لوظ سره کیږی چې مالِک خُدائ به په ټوله دُنیا باندې خپله حکمرانی قائمه کړی. د حفظ کولو دپاره ۳:۱ آیت ”ما ته راواپس شئ، او زهٔ به تاسو له راواپس شم.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مالِک خُدائ ته د راواپس کېدو آواز

١ (١) د فارس بادشاه داريوس د بادشاهۍ د دويم کال په اتمه مياشت، د مالِک
خُدائ کلام په زکرياه پيغمبر، د برکياه په زوئ چې د عدو زوئ وو نازل شو، (٢)
"ستاسو پلار نيکۀ ته مالِک خُدائ ډېر غصه وو. (٣) نو په دې وجه خلقو ته
ووايه چې، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی چې ما ته راواپس شئ، او زۀ به تاسو
ته راواپس شم، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. (٤) د خپل پلار نيکۀ په شان مۀ
جوړېږئ، چا ته به چې پخوانو پېغمبرانو فرمائيل چې، "مالِک خُدائ دا فرمائی
چې، د خپلې بدعملۍ نه او د خپل بدعمله کارونو نه واوړئ." خو هغوئ به ما ته
غوږ نۀ نيولو او نۀ به يې توجو راکوله، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. (٥) خو
ستاسو پلار نيکۀ اوس چرته دی؟ ولې هغوئ او پېغمبران به تر ابده ژوندی وی
څۀ؟ (٦) خو هر څۀ چې ما د خپلو خِدمتګارانو پېغمبرانو په وسيله ستاسو پلار
نيکۀ ته وفرمائيل، هم هغه شان وشُو لکه څنګه چې ما حکم ورکړے وو. نو بيا
هغوئ توبه وويسته او وې وئيل، مالِک خُدائ ربُ الافواج مونږ سره هغه څۀ
وکړل د کوم چې زمونږ طريقې او عملونه حقدار وُو، هغۀ مونږ سره هغه څۀ
وکړل د څۀ کولو چې هغۀ اراده کړې وه."

## د آسونو په حقله د پېغمبر رويا

(٧) د داريوس د بادشاهۍ په دويم کال، د يوولسمې مياشتې په څليرويشتمه ورځ
چې د شبباط مياشت وه، د مالِک خُدائ کلام زکرياه د برکياه په زوئ چې د عدو
زوئ وو نازل شو، (٨) په شپه کښې ما يوه رويا وليده، او هلته زما په وړاندې يو
سړے په سُور آس سور وو. هغه آس د سر درو ونو په مينځ کښې په يو تنګه
وادۍ کښې ولاړ وو. د هغۀ نه شاته سرۀ، نسواری او سپين آسونه وُو. (٩) ما
تپوس وکړو، "دا څۀ دی، زما مالِکه؟" هغه فرښتې چې ما سره يې خبرې کولې
جواب راکړو، "زۀ به تا ته وښايم چې دا څۀ دی." (١٠) بيا هغه سړے چې د سر



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درو ونو مینځ کښې ولاړ وو هغهٔ جواب راکړو، ”دا هغه ځوک دے چې مالِک
خُدائ رالېږلے دے چې په دُنیا کښې ګشت وکړی.“ (۱۱) او هغوئ د مالِک
خُدائ فرښتې ته خبر ورکړو، ځوک چې د سر درو ونو په مینځ کښې ولاړه وه،
”مونږ په ټوله دُنیا کښې ګشت وکړو او پته راته ولګېده چې ټوله دُنیا په آرام او
امن کښې ده.“ (۱۲) بیا د مالِک خُدائ فرښتې وفرمائیل، ”مالِکه خُدایه، ربُ
الافواجه، تهٔ به ترڅو پورې په یروشلم او د یهوداه په علاقو رحم نهٔ کوې، چا ته
چې تهٔ د اویا کالو نه غصه یې؟“ (۱۳) نو مالِک خُدائ په رحم او نرم لفظونو هغه
فرښتې سره خبرې وکړې چا چې ما سره خبرې کولې. (۱۴) بیا هغه فرښتې چا
چې ما سره خبرې کولې راته یې وفرمائیل، ”د دې کلام اعلان وکړه چې مالِک
خُدائ ربُ الافواج دا فرمائی، زهٔ په یروشلم او صیون ډېر زیات غیرت کوم. (۱۵)
خو زهٔ هغه نورو قومونو ته ډېر غصه یم چې په امن او سکون کښې ژوند کوی.
زهٔ خپلو خلقو ته لږ غصه وم، خو دې قومونو هغوئ ته زما د ارادې نه زیات
نقصان ورکړو. (۱۶) په دې وجه، مالِک خُدائ دا فرمائی، زهٔ به یروشلم ته واپس
رحم سره راشم، او هلته به زما کور بیا آباد شی. او د ناپ تول تارونه به په
یروشلم راښکلے شی، دا مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. (۱۷) نو دا هم ووایه،
مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی چې، زما ښارونه به بیا د برکت نه ډک شی، او
مالِک خُدائ به بیا صیون له تسلی ورکړی او یروشلم به لکه د خپل ښار دوباره
غوره کړی.“

## ځلور ښکرونه او ځلور لوهاران

(۱۸) بیا ما بره وکتل، او هلته زما په وړاندې ځلور ښکرونه وُو. (۱۹) ما تپوس
وکړو، د هغه فرښتې نه چې ما سره یې خبرې کولې، ”دا څهٔ دی؟“ هغې جواب
راکړو، ”دا هغه ښکرونه دی چې یهوداه، اِسرائیل او یروشلم یې خوارهٔ وارهٔ کړی
دی.“ (۲۰) بیا مالِک خُدائ ما ته ځلور لوهاران وښودل. (۲۱) ما ترې نه تپوس
وکړو چې، ”دا ځلور کسان د څهٔ دپاره راروان دی؟“ نو فرښتې جواب راکړو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”دا څلور ښکرونه هغه قومونه دی چې يهوداه يې عاجز او تس نس کړو. نو اوس
دا لوهاران راغلی دی چې دا قومونه ويروی او راښکته يې کړی او د هغوئ کبر
ختم کړی.“

## سړے د ناپ فيتې سره

۲ ۞۱ بيا ما بره وکتل، او هلته زما په وړاندې د ناپ تول فيته په لاس يو سړے
ولاړ وو. ۞۲ نو ما ترې نه تپوس وکړو چې، ”تهٔ چرته روان يې؟“ هغهٔ راته په
جواب کښې وفرمائيل، ”د يروشلم ناپ کولو له، چې دا معلوم کړم چې هغه
څومره پلن او څومره اوږد دے.“ ۞۳ نو څهٔ وخت چې کومې فرښتې ما سره
خبرې کولې هغه مخکښې لاړه نو په دې وخت کښې يوه بله فرښته د هغې سره
مِلاوېدو دپاره راغله، ۞۴ او هغې ته يې وفرمائيل، ”په منډه لاړ شه، هغه ځوان
سړی ته ووايه چې يروشلم به د دېوالونو نه بغېر ښار وی ځکه چې دې کښې به
انسانان او څناور په ډېر لوئ تعداد وی. ۞۵ او زهٔ به په خپله د دې نه ګېرچاپېره
د اور دېوال يم، مالِک خُدائ فرمائی، او زهٔ به په خپله د دې ښار په مينځ کښې
جلال يم.“

## جلاوطن خلق خپل کور ته واپس رابلل

۞۶ ”راشئ، راشئ. د شمالی مُلک د جلاوطنئ نه راوتښتئ،“ مالِک خُدائ
فرمائی، ”ځکه ما تاسو په ټوله دُنيا کښې څلور واړو طرفونو ته خوارهٔ کړئ،“
مالِک خُدائ فرمائی. ۞۷ ”اے د صيون خلقو راوتښتئ، څوک چې په بابل کښې
جلاوطن شوی يئ.“ ۞۸ نو مالِک خُدائ ربُ الافواج داسې فرمائی، ”زهٔ هغه
جلالی خُدائ هغه قومونو ته راولېږلم، چا چې تهٔ لوټ کړے يې، ځکه چې هر
څوک چې تا سره ولګی نو هغه د خپلې سترګې ګاتی سره لګی. ۞۹ په يقين سره
به زهٔ خپل لاس د هغوئ خلاف راوچت کړم نو د هغوئ غلامان به هغوئ لوټ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی. بیا به تاسو په دې پوهه شئ چې زهٔ مالِک خُدائ ربُ الافواج رالیږلے یم.
(۱۰) چغې ووهه او خوشحالی وکړه، اے صیون لورې. ځکه چې زهٔ راروان یم،
او زهٔ به ستاسو په مینځ کښې اوسیږم،" مالِک خُدائ فرمائی. (۱۱) "په هغه ورځ
به ډیر قومونه د مالِک خُدائ سره یوځائ شی او هغوئ به زما خلق شی. زهٔ به
ستاسو په مینځ کښې اوسیږم او تاسو به په دې پوهه شئ چې مالِک خُدائ ربُ
الافواج زهٔ تاسو ته رالیږلے یم. (۱۲) مالِک خُدائ به په مقدسه زمکه کښې یهوداه
لکه د خپلې حصې میراث حاصل کړی او یروشلم به بیا لکه د خپل ښار غوره
کړی. (۱۳) اے ټولو انسانانو د مالِک خُدائ په وړاندې خاموش ودریږئ، ځکه
چې هغه په خپله د خپل مقدس ځائ نه راوچت شوے دے."

## د مشر اِمام رویا

۳ (۱) بیا هغهٔ ما ته یشوَع مشر اِمام وښودلو چې د مالِک خُدائ د فرښتې په
وړاندې ولاړ وو، او اِلزام لګوونکے یعنې شیطان د هغهٔ په ښی طرف ولاړ وو چې
په هغهٔ اِلزام ولګوی. (۲) مالِک خُدائ شیطان ته وفرمائیل، "مالِک خُدائ تا
رټی، شیطانه. هغه مالِک خُدائ، چا چې یروشلم غوره کړے دے، هغه تا رټی.
آیا دا سړے هغه سوزېدونکې لرګی په شان نهٔ دے چې د اور نه راښکلے شوے
وی؟" (۳) اوس یشوَع په ګنده جامو کښې د فرښتې په مخکښې ولاړ وو. (۴)
فرښتې هغوئ ته وفرمائیل څوک چې د هغهٔ د وړاندې ولاړ وُو، "د دهٔ نه ګنده
جامې وباسئ." بیا هغې یشوَع ته وفرمائیل، "وګوره، ما ستا ګناهونه لرې کړل، او
زهٔ به تا ته ښائسته جامې درواغوندم." (۵) بیا ما ووئیل، "هغوئ دې د هغهٔ په سر
باندې یو پاک پټکے کیږدی،" او هغوئ ورته پاک پټکے په سر کېښودو او ښکلې
نوې جامې یې ورواغوستلې کله چې لا د مالِک خُدائ فرښته د هغهٔ سره هلته
ولاړه وه. (۶) د مالِک خُدائ فرښتې یشوَع له په کلکه وفرمائیل، (۷) "دا هغه څهٔ
دی چې مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی، کهٔ تهٔ زما په لار روان یې او زما قانون


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منې، نو تهٔ به زما د کور حکمرانی کوې او زما د دربار اختيار به درسره وی، او
زهٔ به تا له د دوئ په مينځ کښې ځائ درکړم څوک چې دلته ولاړ دی. (٨)
واوره، اے مشر اِمامه يشوَع او نور اِمامان چې ستا په وړاندې ناست دی، تاسو
د راتلونکی ښهٔ وخت نښه يئ، زهٔ به خپل خِدمت کوونکے راولم چې څانګه بللے
شی. (٩) وګورئ، هغه قيمتی کاڼے چې ما د يشوَع په وړاندې اېښے دے. د هغه
کاڼی اووهٔ مخونه دی، او زهٔ به په دې نقش وليکم، مالِک خُدائ ربُ الافواج
فرمائی، او زهٔ به د دې مُلک ګناهونه په يوه ورځ کښې ختم کړم. (١٠) په هغه ورځ
به تاسو هر يو کس خپل ګاونډی راوغواړئ چې خپل د انګورو او اينځر د ونې
لاندې کښېنئ، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی.“

## د سرو زرو ډيوټ او د زيتون د ونې رويا

٤ (١) بيا کومې فرښتې چې ما سره خبرې کولې ما له بيا راغله او زهٔ يې بېدار
کړم، لکه څنګه چې يو سړے د خوب نه راپاڅوی. (٢) ”اوس تا ته څهٔ
ښکاری؟“ هغې ما نه تپوس وکړو. ما جواب ورکړو، ”زهٔ د سرو زرو يو ډيوټ
ګورم چې په سر يې د تېلو يوه کاسه ده. او د کاسې نه ګېرچاپېره اووهٔ ډيوې دی،
او د هرې يوې د باتو سره اووهٔ د تېلو فوارې دی. (٣) هم دې سره خوا ته دوه د
زيتُونو ونې دی، يو د جام ښی طرف ته او بله ګس طرف ته ده.“ (٤) ما د
فرښتې نه تپوس وکړو چا چې ما سره خبرې کولې، ”دا څهٔ دی، زما مالِکه؟“ (٥)
هغې ما ته جواب راکړو، ”آيا تا ته پته نشته چې دا څهٔ دی؟“ ”نه، زما مالِکه،“ ما
جواب ورکړو. (٦) نو هغه فرښتې ما ته وفرمائيل، ”دا زرُبابل ته د مالِک خُدائ
کلام دے، نهٔ په طاقت او نهٔ په قدرت، خو زما په روح باندې، مالِک خُدائ ربُ
الافواج فرمائی. (٧) هيڅ څيز هم نه، تر دې چې د زرُبابل په لار کښې غټ غرونه
هم نهٔ شی ودرېدلے، دا به د هغهٔ په وړاندې هوار کړے شی. او کله چې زرُبابل د
خُدائ د کور آخری کاڼے په خپل ځائ کښې ږدی، خلق به چغې ووهی، خُدائ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې برکت ورکړی. خُدائ دې برکت ورکړی.“ (٨) بيا د مالِک خُدائ کلام په ما
نازل شو، (٩) ”د زرُبابل لاسونو د خُدائ د کور بنياد کېښودو، هم د دهٔ لاسونه به
يې مکمل کړی. بيا به تاسو ته پته ولګی چې مالِک خُدائ ربُ الافواج زهٔ تاسو ته
رالېږلے يم. (١٠) وړو شروعاتو ته په سپکه سترګه مهٔ ګورئ، ځکه چې هغه د کار
په شروع کېدو سره چې د زرُبابل په لاس کښې سال وګوری خوشحالېږی. دا
اووهٔ ډيوې د مالِک خُدائ د سترګو نمائندګی کوی، چې د هغوئ په ذريعه د ټولې
دُنيا لټون کوی.“ (١١) بيا ما د فرښتې نه تپوس وکړو، ”دا د زيتُونو دوه ونې څهٔ
دی چې د ډيوټ ښې او ګس طرف ته دی؟“ (١٢) او بيا ما هغې نه تپوس وکړو،
”دا دوه د زيتُونو څانګې چې د سرو زرو دوه نلکو په خوا کښې دی چې ترې تېل
بهيږی دا څهٔ دی؟“ (١٣) هغې جواب راکړو، ”آيا تا ته پته نشته چې دا څهٔ دی؟“
”نه، مالِکه،“ ما ورته ووئيل. (١٤) نو هغې وفرمائيل، ”دا دوه غوره شوی سړی دی
چې د ټولې دُنيا د مالِک خِدمت وکړی.“

## د الوتونکی طومار رويا

**٥** (١) ما بيا وکتل، هلته په هوا کښې زما په وړاندې يو کولاو شوے طومار وو.
(٢) نو فرښتې زما نه تپوس وکړو چې، ”تا ته څهٔ ښکاری؟“ ما جواب ورکړو
چې، ”ما ته په هوا کښې يو کولاو طومار ښکاری چې لس ګزه اوږد او پينځهٔ ګزه
پلن دے.“ (٣) او هغې ما ته وفرمائيل، ”دا هغه لعنت دے چې په ټوله دُنيا کښې
به راشی، ځکه څهٔ چې د دهٔ په يو اړخ کښې ليکلے شوی دی د هغې په مطابق،
هر يو غل به وشړلے شی، او څهٔ چې د دې په بل اړخ ليکلے شوی دی د هغې په
مطابق، هر څوک چې د دروغو قسمونه خوری هغوئ به لرې کړے شی. (٤)
مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی، زهٔ به دا لعنت بهر ولېږم، او دا به د غل کور ته
او د هغه چا کور ته ورننوځی څوک چې زما په نوم د دروغو قسمونه خوری. دا
به په هغه کور کښې پاتې شی او دا به د دې لرګی او کاڼی دوارهٔ په پوره توګه تباه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی.“

## په ټوکرۍ کښې د ښځې په حقله رویا

۵ بیا هغه فرښته چې ما سره یې خبرې کولې ما ته نزدې راغله او ما ته یې
وفرمائیل، ”بره وګوره او هغه څهٔ چې ښکاری دا څهٔ دی.“ ۶ ما ترې تپوس
وکړو چې، ”دا څهٔ دی؟“ هغې جواب راکړو، ”دا د پیمانې ټوکرۍ ده.“ او هغې دا
وفرمائیل چې، ”چې د ټول مُلک د خلقو د بې‌اِنصافۍ نه ډکه ده.“ ۷ بیا د سیکې
دروند سر د ټوکرۍ نه اوچت کړے شو، او په ټوکرۍ کښې یوه ښځه ناسته وه.
۸ فرښتې وفرمائیل، ”د دې ښځې نامه بدعملی ده،“ او هغې هغه په ټوکرۍ
کښې بیا وردیکه کړه او د سیکې دروند سر یې پرې کېښودو. ۹ بیا ما بره
وکتل، او زما په وړاندې دوه ښځې وې، چې وزرې یې په هوا کښې وې. د هغوئ
وزرې لکه د زانې د وزرې په شان وې، او هغوئ دا ټوکرۍ د زمکې نه آسمان ته
وخېژوله. ۱۰ ”هغوئ دا ټوکرۍ چرته وړی؟“ ما د هغه فرښتې نه چې ما سره یې
خبرې کولې تپوس وکړو. ۱۱ هغې جواب راکړو چې، ”د بابل مُلک ته چې د
هغې دپاره هلته یو کور تیار کړی. کله چې هغه تیار شی، نو هلته به ټوکرۍ په
خپل ځائ کېښودے شی.“

## څلور جنګی ګاډی

۶ ۱ ما بیا بره وکتل، او هلته زما په وړاندې څلور جنګی ګاډی د پیتلو د دوو
غرونو د مینځ نه راروانې وې. ۲ وړومبی ګاډی کښې سرهٔ آسونه، دویمه کښې
تور آسونه وُو، ۳ دریمه کښې سپین آسونه او څلورمه کښې برګ آسونه وُو،
ټول ډېر مضبوط وُو. ۴ ما د هغه فرښتې نه تپوس وکړو چا چې ما سره خبرې
کولې، ”دا څهٔ دی زما مالِکه؟“ ۵ فرښتې راله جواب راکړو، ”دا د آسمان څلور
روحونه دی، دا د ټولې دُنیا د مالِک خُدائ د حضور نه بهر راوتل. ۶ هغه ګاډی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تور آسونه يې دی د شمال مُلک طرف ته، د سپينو آسونو والا د مغرب طرف ته، او د برَګو آسونو والا د جنوب طرف ته روانه ده.“ ۷ کله چې هغه طاقتور آسونه بهر ووتل، نو هغوئ د دُنيا د ګشت لګولو دپاره بې‌صبره وُو. او هغې وفرمائيل، ”لاړ شئ او په دُنيا کښې ګشت ولګوئ.“ نو هغوئ د دُنيا د ګشت لګولو دپاره لاړل. ۸ بيا هغې ما ته آواز وکړو چې، ”ګوره، کوم آسونه چې د شمال طرف ته روان دی هغوئ زما غصه په شمال مُلک کښې سړه کړه.“

## د يشوَع دپاره تاج

۹ بيا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۰ ”د جلاوطن کړے شوی خلدی، طوبياه او يدعياه نه سپين زر او سرۀ زر واخله، ځوک چې د بابل نه راغلی دی. هم په هغه ورځ د يوسياه د صفنياه د زوئ کور ته لاړ شه. ۱۱ د هغوئ د سپينو زرو او سرو زرو تحفه واخله او تاج ترې جوړ کړه، او دا د مشر اِمام د يهوصدق د زوئ يشوَع په سر کړه. ۱۲ هغۀ ته ووايه چې، مالِک خُدائ ربُ الافواج دا فرمائی، ”دا هغه سړے دے د چا نوم چې ځانګه ده، او دے به د خپل ځان نه ځانګې خورې کړی او د مالِک خُدائ کور به جوړ کړی. ۱۳ دا هغه ځوک دے چې د مالِک خُدائ کور به جوړ کړی او دۀ ته به د بادشاهۍ جامې ورواغوستے شی او په تخت به کښېنی او بادشاهی به کوی. او په خوا کښې به اِمام د دۀ تخت سره ولاړ وی. او د دواړو په مينځ کښې به جوړ توړ وی.“ ۱۴ د خلدی، طوبياه، يدعياه او حين د صفنياه زوئ ته به تاج د مالِک خُدائ په کور کښې د يادګار په توګه ورکړے شی. ۱۵ هغه ځوک چې لرې دی هغوئ به راشی او د مالِک خُدائ د کور په جوړولو کښې به مدد وکړی. او تاسو ته به پته ولګی چې مالِک خُدائ ربُ الافواج زۀ تاسو ته رالېږلے يم. دا به وشی خو چې تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک پوره تابعداری وکړئ.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اِنصاف او رحم، روژه نه

٧ ﴿١﴾ د داریوس د سلطنت په څلورم کال، د مالِک خُدائ کلام په زکریاه نازل
شو د نهمې میاشتې په څلورمه ورځ د کِسلیو په میاشت کښې. ﴿٢﴾ د بیت‌ایل
خلقو شراضر او رجم‌مِلک سره د خپلو سړو ولېږل، چې مالِک خُدائ ته زارى
وکړى ﴿٣﴾ چې د مالِک خُدائ ربُ الافواج د کور د اِمامانو او پېغمبرانو نه تپوس
وکړى چې، "آیا مونږ ماتم وکړُو او روژه ونیسو په پینځمه میاشت کښې، لکه
څنګه چې مونږ دا د ډېرو کالونو نه کوُو؟" ﴿٤﴾ بیا د مالِک خُدائ ربُ الافواج
کلام په ما نازل شو، ﴿٥﴾ "د دې مُلک د ټولو خلقو نه او اِمامانو نه پوښتنه وکړه،
کله چې تاسو روژه نیوله او ماتم مو په پینځمه او اوومه میاشت کښې د تېرو اویا
کالو راسې کولو، آیا دا روژې په حقیقت تاسو زما دپاره نیولې؟ ﴿٦﴾ او کله چې
تاسو خوراک څښاک کولو، آیا دا تاسو د ځان دپاره نۀ کولو؟ ﴿٧﴾ آیا دا هغه
کلام نۀ دے چې ما مالِک خُدائ فرمائیلی وُو د وړومبیو پېغمبرانو په ذریعه کله
چې په یروشلم او د دې نه ګېرچاپېره کلو کښې سکون او برکت وو، او نجب او د
مغربى غرونو لمنې ښۀ آبادې وې؟"

## د نافرمانۍ په وجه جلاوطنى

﴿٨﴾ او د مالِک خُدائ ربُ الافواج کلام بیا په زکریاه نازل شو، ﴿٩﴾ "دا مالِک
خُدائ ربُ الافواج فرمائى، په رښتیا سره اِنصاف کوئ، یو بل سره رحم او مینه
کوئ. ﴿١٠﴾ په کونډو، یتیمانو، په پردو او غریبانانو ظلم زیاتے مۀ کوئ. په خپلو
زړونو کښې یو بل ته شیطانى سوچونه مۀ کوئ. ﴿١١﴾ خو هغوئ په دې غور کولو
نه اِنکار وکړو، او په سرکشۍ سره یې ورته شا کړه او خپل غوږونه یې بند کړل.
﴿١٢﴾ هغوئ خپل زړونه لکه د هیرې سخت کاڼى په شان سخت کړل او هغوئ هغه
حکمونو یا تعلیماتو ته توجو نۀ ورکوله چې مالِک خُدائ ربُ الافواج د خپل روح
نه د پخوانو پېغمبرانو په ذریعه رالېږلی وُو، نو په دې وجه مالِک خُدائ ربُ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

الافواج سخت په قهر شو. ۞١٣ کله چې ما ورته آواز وکړو، نو هغوئ نۀ اورېدلو،
او نو اوس کله چې هغوئ آواز وکړى، نو زۀ به يې نۀ اورم، مالِک خُدائ ربُ
الافواج فرمائى. ۞١٤ ما هغوئ د طوفان په ذريعه په لرى قومونو کښې خوارۀ
وارۀ کړل، چرته چې هغوئ لکه د پردو په شان اوسېدل. د هغوئ مُلک وران
ويجاړ پروت وُو او د هغوئ نه پس ورته څوک نۀ شو راتلے. نو دغه شان د
هغوئ خپل ښکلے مُلک په صحرا بدل شو.“

## د مالِک خُدائ يروشلم ته د برکت وعدې

٨ ۞١ بيا د مالِک خُدائ ربُ الافواج کلام په ما نازل شو، ۞٢ مالِک خُدائ
ربُ الافواج دا فرمائى چې، ”زۀ په يروشلم ډېر زيات غېرت کوم، زۀ د هغې دپاره
سوزېږم.“ ۞٣ مالِک خُدائ دا فرمائى چې، ”زۀ به صيون ته راواپس شم او په
يروشلم کښې به اوسېږم. بيا به يروشلم وفادار ښار بللے شى، او د مالِک خُدائ
ربُ الافواج غر به مقدس غر بللے شى.“ ۞٤ مالِک خُدائ ربُ الافواج دا
فرمائى، ”يو ځل بيا به زاړۀ سړى او ښځې د يروشلم په کوڅو کښې کښېنى، هر
يو سره به د بوډاتوب په وجه په لاس کښې کونټۍ وى. ۞٥ د ښار کوڅې به د
هلکانو او جينکو نه ډکې وى او په کښې به لوبې کوى.“ ۞٦ مالِک خُدائ ربُ
الافواج دا فرمائى، ”کېدے شى چې د هغه وخت پاتې شوى خلقو ته دا ناممکنه
ښکارى، خو آيا دا به ما ته هم ناممکنه ښکارى؟“ مالِک خُدائ ربُ الافواج
فرمائى. ۞٧ مالِک خُدائ ربُ الافواج دا فرمائى، ”زۀ به خپل خلق د مشرق او
مغرب د مُلکونو نه بچ کړم. ۞٨ زۀ به هغوئ واپس راولم چې په يروشلم کښې
اوسيږى، هغوئ به زما خلق وى، او زۀ به په ايماندارۍ او صداقت د هغوئ
خُدائ پاک يم.“ ۞٩ مالِک خُدائ ربُ الافواج دا فرمائى چې، ”تاسو څوک چې
دا کلام اوس اورئ چې نبيانو فرمائيلے دے څوک چې هلته وُو کله چې د مالِک
خُدائ ربُ الافواج د کور بنياد کېښودے شو، خپل لاسونه مضبوط کړئ چې د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک کور جوړ شی. ﴿۱۰﴾ د هغه وخت نه مخکښې د انسان او ځناور چا
دپاره هم د مزدورۍ پیسې نۀ وې. هیڅ څوک هم خپل کاروبار ته د خپلو دشمنانو
په وجه په حفاظت سره نۀ شو تلے، ځکه چې ما هر سړے د خپل ګاونډی
دشمن کړے وو. ﴿۱۱﴾ خو زۀ به اوس د دې خلقو پاتې شوو سره داسې معامله
ونۀ کړم لکه چې ما مخکښې کړې وه،" مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. ﴿۱۲﴾
"تخم به په خیر سره کَرلے کیږی، د انګورو بوټی به ښۀ میوه کوی، زمکه به خپل
فصلونه کوی، او آسمانونه به پرخه ورَوی. زۀ به دا هر څۀ د میراث په توګه د دې
خلقو ژوندی پاتې شوو ته ورکړم. ﴿۱۳﴾ څنګه چې تۀ د قومونو دپاره د لعنت نښه
وې، اے یهوداه او اِسرائیله، نو داسې به زۀ تا بچ کړم، او تۀ به د برکت سبب
وګرځې. مۀ یریږه، او تکړه شه." ﴿۱۴﴾ مالِک خُدائ ربُ الافواج دا فرمائی، "څنګه
چې ما په تاسو باندې د افت راوستلو پخه فیصله وکړه او هیڅ رحم مې ونۀ کړو
کله چې ستاسو پلار نیکۀ زۀ غصه کړم،" مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی، ﴿۱۵﴾
"نو اوس ما پخه اراده کړې ده چې یروشلم او یهوداه ته به برکت ورکړم. یریږه
مۀ. ﴿۱۶﴾ دا هغه کارونه دی چې تاسو به یې کوئ، یو بل ته رښتیا خبره کوئ. او
په خپل عدالت کښې د اِنصاف نه کار اخلئ، نو دا به امن راولی. ﴿۱۷﴾ د خپل
ګاونډی خلاف خرابې منصوبې مۀ جوړَوئ، او د دروغو قسمونو خوړلو سره
مینه مۀ کوئ. زۀ د دې ټولو څیزونو نه نفرت کوم،" مالِک خُدائ فرمائی. ﴿۱۸﴾ بیا
د مالِک خُدائ ربُ الافواج کلام په ما نازل شو. ﴿۱۹﴾ دا هغه څۀ دی چې مالِک
خُدائ ربُ الافواج یې فرمائی، "د یهوداه دپاره د څلورمې، پینځمې، اوومې او
لسمې میاشت روژې نیول به د خوشحالۍ موقعې او د خوشحالۍ اخترونه وی. په
دې وجه رښتیا او امن سره مینه ساتئ." ﴿۲۰﴾ دا هغه څۀ دی چې مالِک خُدائ
ربُ الافواج یې فرمائی، هغه وخت را روان دے چې "ډېر خلق او د ډېرو ښارونو
اوسېدونکی به یروشلم ته راشی، ﴿۲۱﴾ او د یو ښار خلق به بل ته ځی او وائی به،
راځئ چې په شریکه د مالِک خُدائ نه سوال وکړُو او د مالِک خُدائ ربُ الافواج
لټون وکړُو. زۀ په خپله هم ورځمه. ﴿۲۲﴾ او ډېر خلق او طاقتور قومونه به یروشلم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته راشي چې د مالِک خُدائ ربُ الافواج لټون وکړی او د هغهٔ نه برکت وغواړی.“
٢٣ دا هغه څهٔ دی چې مالِک خُدائ ربُ الافواج يې فرمائی، ”په هغه ورځو کښې
به لس سړی د ټولو ژبو او قومونو نه هر يو د يو يهودی د چُوغې لمنه کلکه
ونيسی او وائی به، موږ پرېږده چې تا سره لاړ شُو، ځکه چې موږ اورېدلی دی
چې مالِک خُدائ ستا مل دے.“

## د بنی اِسرائيلو د دشمنانو عدالت

٩ ١ د مالِک خُدائ پېغام د حدرک د مُلک خلاف دے او دا به په دمشق نازل
شی، ځکه چې د خلقو او د بنی اِسرائيلو د ټولو قبيلو سترګې مالِک خُدائ ته دی.
٢ او حمات ته هم چې د دې سره يې سرحدونه دی، او په صور او صيدا هم
اګر کهٔ هغوئ ډېر ماهران دی. ٣ د صور خلقو ځان دپاره پخه قلعه جوړه کړه،
او هغې سپين زر لکه د خاورې ډېری، او سرهٔ زر يې لکه د کوڅو د ګندونو په
شان راغونډ کړل. ٤ خو مالِک خُدائ به د دې ملکيت قبضه کړی. او د دې
ټول قدرت به په سمندر کښې تباه کړی، او دا به په اور وسوزولے شی. ٥ د
اسقلون ښار به دا وګوری او وبه يرېږی. غزه به د يرې نه په لړزان شی. او
عقرون به هم، ځکه چې د هغې اُميد به ختم شی. د غزه بادشاه به مړ شی او
اسقلون به شاړ شی. ٦ پردی خلق به اشدود قبضه کړی، او زهٔ به د فلستيانو
غرور ختم کړم. ٧ زهٔ به د هغوئ د خُلو نه د وينو ډکه غوښه راکاږم، او د
هغوئ د غاښونو نه به حرامه قربانی راوباسم. او ژوندی پاتې شوی فلستيان به
زموږ د مالِک خُدائ عبادت وکړی او د يهوداه د يوې قبيلې په شان به شی. د
عقرون فلستيان به زما خلقو سره يوځائ شی، لکه څنګه چې پخوانی يبوسی يو
ځلی يوځائ شوی وُو. ٨ نو زهٔ به د حمله کوونکی لښکر خلاف د خپل کور
حِفاظت کوم. زما په خلقو به بيا هيڅکله ظالمان راونهٔ خېژی، ځکه چې زهٔ اوس
په خپله د دې حفاظت کوم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د صيون د بادشاه راتلل

٩ ډېره خوشحالي وکړه، اے صيون لورې. د خوشحالئ نه چغې ووهه، د
يروشلم لورې. وګورئ، ستاسو بادشاه تاسو ته راروان دے، هغه صادق او
خلاصونکے دے، هغه حليم او په خرۀ سور دے، په کوچانی يعنې په کوچی
باندې. ١٠ زۀ به د اِفرائيم نه جنګی ګاډئ بوځم او جنګی آسونه به د يروشلم نه
بوځم، او جنګی ليندې به ماتې کړے شی. هغه به قومونو ته د امن اعلان وکړی.
د هغۀ بادشاهی به د يو سمندر نه بل سمندر پورې لويه شی او د فرات سيند نه به
تر د دُنيا آخری حدودو پورې وی. ١١ اے زما قومه، ما تاسو سره لوظ وکړو او
د هغې تصديق د قربانئ وينې سره وشو، د دې دپاره چې زۀ به ستاسو قېديان د
اوچ کندو نه آزاد کړم. ١٢ خپلې قلعې ته په اُميد سره واپس راشئ، اے قېديانو،
زۀ هم اوس اعلان کوم چې تاسو به زۀ يو په دوه بيا آباد کړم. ١٣ زۀ به يهوداه
داسې راکاږم لکه ځنګه چې زۀ خپله د غشی لينده راکاږم او د اِفرائيم نه به يې
لکه د غشو ډک کړم. زۀ به ستا زامن، اے صيونه، د يونان د زامنو خلاف
راپاروم، او تا نه به د جنګيالی تُوره جوړه کړم. ١٤ بيا مالِک خُدائ به د هغوئ
دپاسه راښکاره شی، د هغۀ غشی به لکه د برېښنا په شان ځليږی. مالِک خُدائ
ربُ الافواج به بيګل وغږوی، هغه به د جنوب طرف طوفان کښې راشی. ١٥ او
مالِک خُدائ ربُ الافواج به د هغوئ حِفاظت کوی، هغوئ به دشمنان تباه کړی
او په هغوئ به د ليندو کاڼو سره غالب شی. هغوئ به د شرابيانو په شان شور
کوی، هغوئ به لکه د هغه جام په شان ډک وی چې د قربانګاه په ګوټونو د وينې
شيندلو دپاره استعماليږی. ١٦ مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک به هغوئ په هغه
ورځ د خپلو خلقو د شپونکی په توګه بچ کړی. هغوئ به د هغۀ په مُلک کښې لکه
د تاج د قيمتی کاڼو په شان ځليږی. ١٧ هغوئ به څومره ښکلې او ښائسته وی.
غله به ځوانان سړی، او نوی مے به ځوانې ښځې ښربه کړی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مالِک خُدائ به د یهوداه حفاظت وکړی

۱۰ ۞ مالِک خُدائ ته په سپرلی کښې د باران دپاره سوال وکړئ. ځکه چې
دا مالِک خُدائ دے چې طوفانی وریځې رالیږی. هغه باران ورَوی او د هر چا
دپاره په پټو کښې شنهٔ بوټی پیدا کوی. ۞ بُتان د فریب خبرې کوی، فالګر هغه
رویا ګوری چې دروغ وی، هغوئ د خوبونو غلط تعبیر کوی، او هغوئ بېفائدې
تسلی ورکوی. نو ځکه خلق د ورکو شوو ګډو په شان سرګردانه ګرځی. په هغوئ
ځکه ظلم کیږی چې شپون یې نشته. ۞ ”زما غصه د شپونکو خلاف زیاته
شوې ده، او زهٔ به حکمرانانو له سزا ورکړم، ځکه چې مالِک خُدائ به د خپلې
رمې حفاظت کوی، د یهوداه د قوم، او هغوئ به لکه د جنګ د فخر آس جوړ
کړی. ۞ د یهوداه نه به د ګوټ کاڼے، د خېمې موږے، د جنګ لینده جوړه
شی، د هغې نه به هر یو حکمران راشی. ۞ هغوئ به یو ځائ لکه د طاقتورو
خلقو په شان په جنګ کښې دشمنان د کوڅې په ختو کښې د پښو لاندې کړی.
ځکه چې مالِک خُدائ د هغوئ سره دے، هغوئ به جنګ وکړی او د آسونو
سوارهٔ به لاندې راوغورزوی. ۞ زهٔ به د یهوداه خلق تکړه کړم او د یوسف قوم
به بچ کړم. زهٔ به هغوئ بیا آباد کړم ځکه چې زهٔ په هغوئ رحم کوم. هغوئ به
داسې وی لکه چې کله ما هغوئ نهٔ وی رد کړی. ځکه چې زهٔ مالِک خُدائ د
هغوئ خُدائ پاک یم، او زهٔ به د هغوئ دُعا ته جواب ورکوم. ۞ اِفرائیمیان به
لکه د جنګیالو په شان شی، او د هغوئ زړونه به داسې خوشحاله وی لکه چې
مے یې څښلې وی. د هغوئ اولاد به دا وګوری او خوشحاله به وی، د هغوئ
زړونه به په مالِک خُدائ کښې خوشحاله وی. ۞ زهٔ به هغوئ ته شپیلے ووهم
او یو ځائ ته به یې راغونډ کړم. یقیناً زهٔ به هغوئ آزاد کړم، هغوئ به بېشمېره
کړم څنګه چې مخکښې وُو. ۞ اګر کهٔ ما هغوئ په قومونو کښې خوارهٔ وارهٔ
کړی دی خو په لرې مُلکونو کښې به هغوئ ما یاد ساتی. هغوئ او د هغوئ بچې
به ژوندی پاتې شی، او واپس به راشی. ۞ زهٔ به هغوئ واپس راولم د مِصر نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغوئ به د اسور نه راجمع کړم. زۀ به هغوئ راولم جِلعاد او لبنان ته، او هلته
به د هغوئ ټولو دپاره کافی ځايونه نۀ وی. ⑪ هغوئ به د مصيبت د سمندر نه
تېر شی، چپې وهونکے سمندر به خاموش شی، او د نيل درياب ژورې اوبۀ به
اوچې شی. د اسور غرور به راښکته شی، او د مِصر شاهی طاقت به ختم شی.
⑫ زۀ به هغوئ له په مالِک خُدائ کښې طاقت ورکړم، او د هغۀ په نوم به هغوئ
روان وی،“ مالِک خُدائ فرمائی.

## مالِک خُدائ به طاقتور مُلکونه رانسکور کړی

**۱۱** ① خپلې دروازې کولاو کړه، اے لبنانه، چې اور ستا د دِيار ونې
وسوزوی. ② فرياد وکړه، اے د نختر ونې، ځکه چې د دِيار ونې راغورزېدلې
دی، هغه د شان او شوکت والا ونې تباه شوې دی. فرياد وکړئ، اے د بسن د
ځېرو ونو، ګڼ ځنګلونه هم ختم شول. ③ د قوم شپونکو فرياد ته غوږ ونيسئ، د
هغوئ د ځرن شنۀ ځايونه تباه شول. د زمرو غړمبار ته غوږ ونيسئ، د اُردن ګڼ
ځنګلونه تباه شول.

## دوه شپونکی

④ مالِک خُدائ زما خُدائ پاک دا فرمائی، ”هغه ګډې وڅروه چې د حلالې
دپاره نښه شوې دی. ⑤ د دې اخستونکی دا حلالې کړی او سزا ورته مِلاو نۀ
شی. چې څوک يې خرڅوی هغوئ وائی، د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی، مونږ
مالداره شُو. د دې خپل شپونکی په دې رحم نۀ کوی. ⑥ نو زۀ به هم نور د دې
مُلک په خلقو رحم ونۀ کړم،“ مالِک خُدائ فرمائی. ”زۀ به هر يو خپل ګاونډی ته
او خپل بادشاه ته حواله کړم. هغوئ به په مُلک ظلم وکړی، او زۀ به دوئ د
هغوئ د لاسونو نه بچ نۀ کړم.“ ⑦ نو ما د هغه ګډو شپونتوب وکړو چې د
حلالولو دپاره نښه کړے شوی دی، په خاص طور مظلومې ګډې. بيا ما دوه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چوکې واخستې چې یوه ”فضل“ او بله ”اتفاق“ بلل کېده، او ما پرې د ګېډو شپونتوب وکړو. ⑧ په یوه میاشت کښې ما د قوم د درې شپونکو نه ځان خلاص کړو. خو ګېډو ما نه نفرت وکړو، او زۀ د هغوئ نه تنګ شوم ⑨ او ومې وئیل، ”زۀ به نور ستاسو شپون نۀ یم. پرېږدئ چې کومې مرې هغه دې مړې شي، او چې کومې تباه کېږی هغه دې تباه شي. پرېږدئ چې کومې پاتې شی هغه دې د یو بل غوښې وخوری.“ ⑩ بیا ما خپله امسا واخستله چې نوم یې ”فضل“ وو او ماته مې کړه، او هغه لوظ مې مات کړو چې ما ټولو قومونو سره کړے وو. ⑪ دا هم په هغه ورځ مات شو. او د ګېډو سوداګرو چا چې ما ته کتل پوهه شول چې دا د مالِک خُدائ کلام دے. ⑫ ما هغوئ ته ووئیل، ”کۀ تاسو سوچ کوئ چې دا ښۀ دی، ما ته خپله مزدوری راکړئ، خو کۀ ښۀ نۀ وی، نو ځان سره یې کړئ.“ نو هغوئ ما له دېرش د سپینو زرو سیکې مزدوری راکړه. ⑬ او مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، ”دا په خزانه کښې ورغورزوه.“ دا اوچت قیمت دے کوم قیمت چې هغوئ زما ولګولو، بیا ما دا دېرش د سپینو زرو سیکې واخستلې او د مالِک خُدائ د کور په خزانه کښې مې وروغورزولې. ⑭ بیا ما خپله دویمه امسا ماته کړه چې نوم یې ”اتفاقی“ وو، او د یهوداه او د اِسرائیل په مینځ کښې ورورولی مې ماته کړه. ⑮ بیا مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، ”د کم عقل شپون سامان یو ځل بیا راواخله. ⑯ ځکه چې زۀ یو شپون راولم په دې مُلک چې هغه به د ورک شوو پرواه نۀ کوی، یا به خوارۀ شوی نۀ لټوی، یا به زخمی شوو له شفا نۀ ورکوی، نۀ به صحتمندو له خوراک ورکوی، خو هغه به د خُرب ګډانو غوښه خوری او د دوئ سومونه به وشلوی. ⑰ افسوس دې په بېکاره شپون وی، چې رمه پرېږدی. تُوره دې د هغۀ لاس او د هغۀ ښي سترګه ووهی. د هغۀ لاس دې مکمل اوچ شی، او د هغۀ ښي سترګه دې بلکل ړنده شی.“

## د یروشلم دشمنان به تباه شی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ① د بنی اِسرائیلو په حقله دا د مالِک خُدائ پېغام دے. د هغه مالِک
خُدائ، چا چې آسمانونه خوارهٔ کړی دی، چا چې د زمکې بنيادونه اېښی دی، او
چا چې بنی آدم له ساه ورکړې ده، هغه فرمائی، ② ”زهٔ به يروشلم نه د شرابو
پياله جوړه کړم چې ګېرچاپېره قومونه يې په ځښلو سره سرګردانه شی، کله چې
هغوئ خپل فوجيان د يهوداه او يروشلم محاصره کولو دپاره رالېږی. ③ په هغه
ورځ، کله چې د زمکې ټول قومونه د دې خلاف يو ځائ شی، زهٔ به د يروشلم نه د
ټولو قومونو دپاره يو نهٔ خوځېدونکے کاڼے جوړ کړم. هر هغه څوک چې د دې د
لرې کولو کوشش کوی هغوئ به خپل ځانونه زخمی کړی. ④ په هغه ورځ به زهٔ
هر آس اوتر کړم او د دې سوارهٔ به لېونی کړم،“ مالِک خُدائ فرمائی. ”زهٔ به د
يهوداه په قوم باندې نظر ساتم. خو زهٔ به د دوئ د دشمنانو ټول آسونه ړاندهٔ کړم.
⑤ بيا د يهوداه حکمرانان به په خپلو زړونو کښې وائی، د يروشلم خلق مضبوط
دی، ځکه چې مالِک خُدائ ربُ الافواج د هغوئ خُدائ پاک دے. ⑥ په هغه
ورځ به زهٔ د يهوداه حکمرانان لکه د لرګو اور، لکه لمبه وهونکی مشعل چې د
غنمو د ګېډئ په مينځ کښې وی جوړ کړم. دا به ښی او ګس طرف ته ګېرچاپېره
ټول خلق وسوزوی، خو يروشلم به په خپل ځائ روغ رمټ پاتې شی. ⑦ مالِک
خُدائ به د يروشلم نه وړاندې نورو يهوديانو ته کاميابې ورکړی، تر دې چې د
يروشلم خلقو او د داؤد شاهی خاندان ته د يهوداه نه زيات عزت مِلاو نهٔ شی.
⑧ په هغه ورځ به مالِک خُدائ هغه خلق بچ کړی څوک چې په يروشلم کښې
اوسېږی، نو په هغوئ کښې به د ټولو نه کمزوری د داؤد هومره طاقتور وی، او د
داؤد اولاد به داسې وی لکه چې خُدائ پاک او لکه چې د مالِک خُدائ يوه فرښته
په خپله د هغوئ نه وړاندې روانه وی. ⑨ په هغه ورځ به زهٔ د هغه ټولو قومونو
تباه کول شروع کړم کوم چې په يروشلم حمله کوی.

## ماتم د هغهٔ دپاره څوک چې دوئ وڅيرلو

⑩ زهٔ به د داؤد په اولاد او څوک چې په يروشلم کښې اوسېږی د فضل او دُعا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روح نازل کړم. هغوئ به ما ته ګورى، هغه چا ته چې دوئ په نېزه وهلے دے، او
هغوئ به د هغهٔ دپاره داسې ماتم وکړى لکه چې څوک په خپل ايکې يو ماشوم
ماتم کوى، او ډېر سخت به خفه شى لکه د چا چې اولنے زوئ مړ شوے وى.
(۱۱) په هغه ورځ به په يروشلم کښې لوئ وير وى، داسې لکه د هددرمون وير چې
د مِجدو په مېدان کښې وو. (۱۲) ټول مُلک به ماتم کوى، هره يوه قبيله به په خپله
د خپلو ښځو نه جُدا يعنې، د داؤد د خاندان قبيله به خپلو ښځو نه جُدا، د ناتن
قبيله به خپلو ښځو نه جُدا، (۱۳) د ليوى قبيلې به د خپلو ښځو نه جُدا، د سِمعى
قبيله به خپلو ښځو نه جُدا، (۱۴) او هره پاتې شوې قبيله به ځان ځان له ماتم
کوى او د دوئ ښځې به هم ځانله ماتم کوى.“

## د ګناه نه پاکېدل

**۱۳** (۱) ”په هغه ورځ به چينه د داؤد د خاندان او د يروشلم اوسېدونکو دپاره
کولاو شى چې دوئ د ګناه او ناپاکۍ نه پاک کړى. (۲) په هغه ورځ به زهٔ د بُتانو
نومونه د مُلک نه ختم کړم، هغوئ به نور نهٔ يادېږى،“ مالِک خُدائ ربُ الافواج
فرمائى. ”زهٔ به دروغژن پېغمبران او ناپاکه روحونه دواړه د مُلک نه ختم کړم.
(۳) او کهٔ اوس هم څوک پېشګوئې کوى، د هغهٔ پلار او مور، چا نه چې هغه پېدا
دے، به هغهٔ ته وائى، تهٔ به ضرور مړ شې، ځکه چې تا د مالِک خُدائ په نوم
دروغ ووئيل. کله چې هغه پېشګوئې کوى د هغهٔ خپل پلار مور به يې وخيرى. (۴)
په هغه ورځ به پېغمبران په پېشګوئې کولو او په رويا بيانولو شرمېږى. د پېغمبرانو
په ببره چُوغه اچولو به څوک هم نهٔ دوکه کوى. (۵) هغه به وائى، زهٔ پېغمبر نهٔ
يم. زهٔ زميندار يم، زمکه د ځوانۍ نه زما روزګار دے. (۶) کهٔ څوک ترې نه
تپوس وکړى، دا زخمونه ستا په بدن باندې د څهٔ دى؟ هغه به جواب ورکړى، دا
زخمونه په ما باندې زما د ملګرى کور کښې لګېدلى دى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## شپونکے ووژلے شو، او ګډې خورې ورې شوې

۷ اے تُورې، زما د شپونکی خلاف راپاڅه، د هغه سړی خلاف چې زما
ملګرے دے.“ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. ”زهٔ به شپون ووهم، او ګډې به
يې خورې ورې شی، او زهٔ به خپل لاس د هغوئ خلاف اوړد کړم چې واړهٔ دی.
۸ په ټول مُلک کښې،“ مالِک خُدائ فرمائی، ”په درېو کښې به دوه مړهٔ او تباه
شی، درېو کښې به يو پاتې شی. ۹ دا درېمه برخه به زهٔ اور کښې واچوم، زهٔ به
دوئ لکه د سپينو زرو په شان صفا کړم او لکه د سرو زرو به يې وآزمائيم. هغوئ
به زما په نوم آواز وکړی او زهٔ به هغوئ له جواب ورکړم، او زهٔ به ووايم چې،
دوئ زما خلق دی، او هغوئ به وائی، مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک دے.“

## د مالِک خُدائ راتلل او بادشاهی کول

۱۴ ۱ ګورئ، د مالِک خُدائ ورځ راروانه ده چې ستاسو مال به بلکل
ستاسو په وړاندې لوټ کړے شی. ۲ زهٔ به ټول قومونه راغونډ کړم چې د
يروشلم خلاف جنګ وکړی، ښار به محاصره شی، کورونه به لوټ شی او ښځې
به په زور بې‌عزته شی. نيم ښار به جلاوطن شی، خو نور پاتې خلق به د ښار نه
بونهٔ تلے شی. ۳ بيا به مالِک خُدائ لاړ شی او د هغه قومونو خلاف به داسې
جنګ وکړی، لکه څنګه چې هغهٔ پخوا جنګ کړے وو. ۴ په هغه ورځ به د هغهٔ
پښې د زيتُونو په غر د يروشلم مشرق طرف ته ودرېږی. او د زيتُونو غر به د
مشرق نه تر مغرب پورې په مينځ نيم شی، يوه لويه وادی به جوړه شی، دا غر به
نيم د شمال طرف ته او نيم د جنوب طرف ته وښوېږی. ۵ بيا به تاسو زما د
غرهٔ په وادی کښې وتښتئ، ځکه دا به تر آضل پورې رسېدلې وی. تاسو به داسې
وتښتئ لکه څنګه چې تاسو د يهوداه د بادشاه عُزياه په ورځو کښې د زلزلې نه
وتښتېدلئ. بيا مالِک خُدائ زما خُدائ پاک به راشی، او ټولې پاکې فرښتې به هغهٔ
سره راشی. ۶ په هغه ورځ به نهٔ رڼا او نهٔ يخ او نهٔ کنګل وی. ۷ دا به يو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بېمثاله ورځ وى، نۀ به ورځ وى نۀ به شپه وى، مالِک خُدائ ته به د دې پته وى. د
ماښام په وخت کښې به هم رڼا وى. ﴿٨﴾ په هغه ورځ به د ژوند اوبۀ د یروشلم نه
بهیږى، نیمې به د مشرق سمندر ته او نیمې به د مغرب سمندر ته، په ګرمۍ او
یخنۍ کښې بهیږى. ﴿٩﴾ مالِک خُدائ به په ټوله زمکه بادشاه وى، په هغه ورځ به
صرف یو مالِک خُدائ وى، او صرف د هغۀ نوم به وى. ﴿١٠﴾ ټول مُلک، د جبع
نه تر رِمون پورې، د یروشلم جنوب طرف ته، به لکه د عرابه د وادۍ په شان شى.
خو یروشلم به بیا اوچت شى او په خپل ځائ به ودریږى، د بنیامین د دروازې نه
تر د زړې دروازې پورې، د ګوټ دروازې پورې، او د حننایل د برج نه تر د
شاهى انګورو د لنګرو پورې. ﴿١١﴾ دا به بیا آباد شى، دا به بیا هیڅکله هم تباه نۀ
شى. یروشلم به محفوظ وى. ﴿١٢﴾ دا هغه وبا ده چې مالِک خُدائ به په دې هغه
خلق مړۀ کړى چا چې د یروشلم خلاف جنګ کړے وو. د هغوئ غوښې به سخا
شى چې لا دوئ په خپلو پښو ولاړ وى، د دوئ سترګې به په خپل ځائ سخا شى،
او د دوئ ژبې به د دوئ په خُلو کښې سخا شى. ﴿١٣﴾ په هغه ورځ به مالِک خُدائ
خلق په لوئ درد اخته کړى. هر سړے به د بل لاس راونیسى، او هغوئ به په یو
بل حمله وکړى. ﴿١٤﴾ تر دې چې یهوداه او یروشلم به په خپلو کښې جنګ کوى. د
ګېرچاپېره ټولو قومونو دولت به راغونډ کړے شى، چې په کښې به په لوئ مِقدار
سرۀ زر او سپین زر او جامې وى. ﴿١٥﴾ هم دغه شان به په آسونو او قچرو،
اوښانو، خرونو او چې څومره څناور په هغه ځائ کښې دى افت نازل شى. ﴿١٦﴾
بیا به د ټولو قومونو پاتې ژوندى کسان چا چې په یروشلم حمله کړې وه کال په
کال د بادشاه، مالِک خُدائ ربُ الافواج عبادت ته هلته ځى، او د جونګړو اختر به
کوى. ﴿١٧﴾ خو کۀ هر قوم یروشلم ته د تلو او د بادشاه مالِک خُدائ ربُ الافواج
د عبادت نه اِنکار وکړى، نو په هغوئ به باران نۀ کیږى. ﴿١٨﴾ کۀ مِصریان هلته
لاړ نۀ شى او خپل ځانونه هلته حاضر نۀ کړى، نو په هغوئ به باران نۀ کیږى.
مالِک خُدائ به په هغوئ هغه وبا نازله کړى چې مالِک خُدائ یې په هغه قومونو
رالیږى څوک چې د جونګړو اختر لمانځلو له نۀ ځى. ﴿١٩﴾ دا به د مِصر او د هغه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تېولو قومونو سزا وی چې څوک د جونګړو اختر لمانځلو له نۀ ځی. ۲۰ په هغه
ورځ به د آسونو په ګونګرو باندې هم ليکلی وی "مالِک خُدائ ته مقدس کړے
شوی" او د پخلی دېګونه د مالِک خُدائ په کور کښې به لکه د هغه مقدسو لوښو
په شان وی چې د قربانګاه په وړاندې دی. ۲۱ هر يو لوښے به په يروشلم او
يهوداه کښې مالِک خُدائ ربُ الافواج ته مقدس وی. او هغوئ ټول چې قربانۍ
کولو له راغلی دی هغوئ به څۀ لوښی واخلی او په کښې به پخلی کولے شی. او
په هغه ورځ به د مالِک خُدائ ربُ الافواج په کور کښې يو کنعانی سوداګر هم پاتې
نۀ شی.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.